د افغانستان اسلامی امارت

د چار اداري لوی ریاست

# د اداري اصلاحاتو او ملکی خدمتونو اداري

# او

# د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري

# تر منځ د پروسو ساده کولو

# د همکارۍ هوکړه لیک

تاریخ: ۱۴۴۳/۱۰/۳۰

## موخه:

د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو اداري او د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري ترمنځ د کاري پروسو د ساده کولو او اصلاح او د هغې اداري د واحدونو په کړنو کې د روڼتیا او اسانتیاوو رامنځته کولو لپاره د ګډو همکاریو چوکاټ جوړول.

## د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو اداره هوکړه کوي ترڅو:

۱. د ځان په استازیتوب د ساده سازی کارپوهان د ګډې کاري ډلې جوړولو لپاره هغې اداري ته د پروسو د پیژندلو او ساده کولو، لپاره ور وپیژني؛

۲. د هغې اداري لخوا ور پیژندل شوو کارکوونکو ته د پروسو د ساده کولو پوهه او تجربې ور زده کړي؛

۳. د هغې اداري د کاري پروسو د ښه والي لپاره د پروسو پیژندنه، مطالعه او د فلوچارت ترسیم، تجزیه او تحلیل او وړاندیزي طرحې وړاندي کړي؛

۴. د کاري لارښود(د کاري پروسو اجرایی لارښود) په ترتیب کې د همکاری زمینه برابره کړي؛

5. په پروسو کې ښکیلو کارکوونکو د ښو شوو پروسو روزنیز پروګرام جوړ کړي.

## د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره هوکړه کوی ترڅو:

۱. د پروسو ساده کولو د بهیر مشري به په غاړه اخلي؛
۲. اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو اداري ته د ګډې ډلې جوړولو لپاره په پروسو کې ښکیل کسان ور وپیژني؛
۳. د کاري پروسو ساده کولو د بهیر ګړندي کولو لپاره د ګډې کاري ډلې اړتیاوو ته اړینی اسانتیاوی برابری کړي؛
٤. د مطالعې لپاره د اړتیا وړ اسناد او معلومات د ساده سازی بهیر د تطبیق ګډې ډلې په واک کې ورکړي؛
۵. د خواوو له توافق وروسته، ښې شوي پروسې(بدیلی پروسې تطبیق کړي).

### دواړه خواوې په ګډه هوکړه کوي څو:

۱. د تفاهم لیک د ټاکل شویو مکلفیتونو د پلي کولو لپاره په ګډه عملیاتی پلان جوړ او پلي کړي؛

۲. د دواړو ادارو مشرتابه به په پیل کې د ګډې همکاري هوکړه لیک او د کار په پای کې د ساده شوو پروسو(بدیلو پروسو) تطبیقي پروسو هوکړه لیک لاسلیک کړي؛

۳. د ډاډ تر لاسه کولو په موخه به د نښو شوو پروسو د عملي تطبیق بهیر څخه څارنه کوي؛

۴. د کړنو پر مختګ څخه به د دواړو ادارو مشرتابه ته په پلاویز ډول راپور ورکوي.